اخري برخه

# مولانا فضل محمود مخفي

فضل زمان شلمان / ترجمه: شهباز محمد

لاندې د مخفي صېب په نظم و نثر کښې چې کومې نکتې چېړلې شوي دي، داسې دي:

أ- پښتون قام ته د يووالي دعوت او په دوي کښې د بې اتفاقۍ د مرض په خلاف.

ب- د افغانستان سره مينه او دغلته په اړې ګړې خفګان.

ج- د خلقو د آزادۍ، خپلواکۍ او ترقۍ غوښتنه چې د نورو ترقي يافته قامونو سره اوږه په اوږه ودرېږي.

د- په پښتنو کښې بېداري او د دښمن په فوځي چال پوهه يوه برابر دي.

ه- پښتنو له تعليم ورکول.

و- پښتون له د صحيح اسلامي او د تصوف تعليم سره سره د جديد سائنس او ټيکنالوجۍ ښوونه.

ز- حب الوطني او قام پرستي.

دۀ په ادب کښې د يو نوي سوچ بنياد کېښود چې وروستو په دغه لاره لويو لويو شاعرانو او ليکوالو تګ وکړو. د مخفي صېب په ادبي حېثيت او خيالاتو کوم چې هغۀ په خپله شاعرۍ کښې ځائے کړي دي، داسې دي:

دعا: دا محض يو روايت جوړ شوے دے چې دعا صرف د خپلو ذاتي ګناهونو د معافۍ دپاره غوښتې شي، د مخفي صېب نه خپل ځان هېر ؤ، هغه په خپله يو نظم کوم چې ئې د کال **1920** نه مخکښې ليکلے ؤ، کښې د خپل قام، وطن او ژبې دپاره دعا کوي[84]. د احمد کاکا د وېنا مطابق ماسټر کريم، حمدالله او حنيف الله د انجمن اصلاح افاغنه په سالانه اجتماع کښې دغه نظم د يو کورس په شکل کښې وئيلے ؤ او په اورېدونکو کښې ئې نوے روح پوک وهلے ؤ[85].

خان عبدالغفار خان د خپل سوانح حيات "زما ژوند او جدوجهد" ترون په دې نظم کړے دے او عبدالولي خان د خپل کتاب باچا خان او خدائي خدمتګار شروع په دې نظم کړې ده. د دې نظم د اهميت او زور په سبب ولي خان په خپل کتاب کښې دغه ټول نظم رانقل کوي[86].

پخواني صوبائي او مرکزي وزير ښاغلي محمد افضل خان المعروف خان لالا په خپل کتاب "د پښتون قومي وحدت" کښې دغه نظم د دې تعارف

سره نقل کوي "خدائے بخښلے فضل محمود مخفي چې یو پیاوړے، نامتو، قام پرست شاعر او لیکوال ؤ، هغهٔ په زړهٔ کښې د پښتون قام د منتشر وجود بیا راغونډولو ژوندي ارمانونه لرل، د هغوي دا یو نظم د هغوي د قامي وحدت د ارمان ترجماني کوي:

خاونده تهٔ ودانه کړې زمونږ د یووالي حجره
یو ځائے پکښې د ځانه کړې د پښتو ډله خوره
یو زړهٔ او یو شان ئې کړې
دے ښل او ښل لره
کشمیر نه هرات پورې بلوچستان نه تر دورې
دا ټول پښتون دے هر چرې څهٔ رنګې پروت ذره ذره
د یو وجود په شان ئې کړې یه خدایه دا ذره ذره
لویو تپو د پښتنو په غرهٔ په سم پرتو درنو
نمسو د لویو پرګنو راځئ چې یو شو لږونو
یه خدایه ورانه کړې
سپېرهٔ ښلتون لره دېره
د پښتون اول نیکهٔ خوارهٔ نمسي دي یو کړه تهٔ
د انسان ټیټ دوي په څهٔ خبر له یو له بله نهٔ
یه خدایه ورانه کړې
سپېرهٔ ښلتون لره دېره
پښتو زمونږ چېرته ئې ولې زمونږ ښېرته ئې
زمونږ زړهٔ ځیګر تهٔ ئې زمونږ د قام وزر تهٔ ئې
په مونږه لار اسانه کړې
چې مونږه شو یو "ګُل" سره
زمونږ د ملک نه دښمنان خدایه تهٔ لر کړې دا زمان
په مونږه کړې زمونږه خان زمونږ د قام زمونږ د ځان
رڼا زمونږه له ځانه کړې
د پښتنو خوره تیاره

جدید پښتون قام پرستي: د آزادۍ په صورت کښې د پښتون ریاست د انتظام د پاره مخفي صېب د مخکښې نه په کال **1920** کښې یوه رڼه او مضبوطه پوره خاکه راښکودلې وه[89] هغه د باقاعده پیاده، هوائي او سمندري فوځ او ټېلي کمیونیکېشن خیال پېش کړے ؤ. مخفي صېب یواځې تصوراتي بنیادم نهٔ ؤ، بلکې هغه په خپله د قېدو بند او جسماني محنت صعوبتونه تېر کړي وو. دا لاندې نظم ئې د هرې عوامي جلسې یوه حصه وه چې په قول د احمد کاکا د خلقو جذبات به ئې رالړزول[90]:

زهٔ د قوم په غم ژوندے یم دغه غم مې په زړهٔ تل وي
په ځیګر سوے له دې یم سر کښې اور مې دې نهٔ بل وي
خدایه داسې ژوندون راکړې چې مې زړهٔ کښې غم د قام وي
په دې غم کښې لږونے وي دغه غم په ما بار تل وي
خدایه داسې وخت به راشي چې زمونږ جهاز به هم وي
لکه باد به په هوا شي په ترخو اوبو به سم شي
زهٔ به خپل جرنېل پسې یم په دښمن به داؤ کول وي
په ارمان ارمان له دې یم، خدایه داسې وخت به "ګل" وي
اې زما ننګیاله قومه! وخت د ننګ او د سیالۍ دے
د دنیا په ډاګه سمه نن هر قوم په داؤ والۍ دے
چې خپل قوم نهٔ کړي بدنامه مخکښې ځائے د ننګیالے دے

خدائي خدمتګار تحریک، ورومبے ټوک صفحه **123**، احمد کاکا.

د وطن مینه: د جون کال **1920** نه مخکښې د مخفي صېب دا نظم د هغهٔ د وطن سره مینه ښکاره کوي[91] هغه د خپل وطن هر شے د نورو ملکونو نه غوره ګڼي او په خپل وطن کښې د زړهٔ او ذهن سکون محسوسوي. هغه د هاغه لالچ غند نه کوي

چې سړے په بل وطن کښې په نوکرۍ او پردو خلقو ته په سلامونو مجبوروي.

بې علمي: مخفي صېب د خلقو د هر قسمه تباهۍ ځېلے بې علمي ګڼي، جاهل خلق صرف خپل سوچ کوي، مخفي صېب د پښتنو د جاهليت نه د راوبستلو دپاره د تعليم اهميت په ګوته کوي[93].

نظريۀ تعليم: مخفي صېب د هاغه وخت د تعليم د خورونې کوششونه کول چې نورې دنيا خو د تعليم اهميت محسوس کړے ؤ خو پښتانۀ لا تر دغه وخته د جهالت په تيارو کښې پراتۀ وو، هغه په دې نتيجه رسېدلے ؤ چې د يو قوم بقا صرف او صرف په تعليم يعنې په سائنس او ټېکنالوجۍ کښې پټه ده، ځکه خو دۀ تعليم يو قسمه جهاد ګڼو.

علم د انسان د فوقيت دے يو محکم نشان
دا صفت جهاد سره ډېر لوئے مناسبت لري

عزم صميم: مخفي صېب د کلکې ارادې خاوند ؤ اګر چې غريبۍ د هغۀ په ژوند اثر پرېباسلے ؤ خو بيا هم هغه د پېرنګي غوندې طاقت مقابله کوله. وائي:

چې د زړۀ درد دې راکوو نو اوس دوا راکه
غم راکوې د غم دپاره زغم زما راکه
په نا امېده بدنصيبه شپه پېدا شومه زۀ
د عمره پورې د دې تورې شپې سبا راکه
سبا له نۀ په ما ده سخته نن تۀ دا راکه
په لوئے رحمت کښې د رحمان مخفي څۀ نشته کمے
جفا رقيب کوي امان له دې جفا راکه

پښتانۀ ليکوال، اول ټوک، صفحه **113**.

تصوف: مخفي صېب په عملي او ژوندي تصوف عقيده لرله.

سياسي سوچ: په کال **1941** کښې چې جاپان دوېم لوئے لام کښې راشريک شو او کانګرېس پارټۍ د پېرنګي سره په سول نافرمانۍ دوباره غور وکړو، مولوي مخفي دغه کار وغندو چې دا بدلون د قام او ملک د تباهۍ دے[94].

قصيدې او مرثيې: مخفي صېب د امير امان الله خان په مدحه کښې يو نظم ليکلے دے[95]. يو بل نظم ئې په څلورم ربيع الاول کال **1366** هـ مطابق **8** مارچ کال **1946** ليکلے دے، دغه وخت نواب د رياست د دورې نه واپس دير ته راغلے ؤ. دغه نظم نواب ته د سکول د استاذانو د طرفه پېش کړے شوے ؤ، په دغه سکول کښې مخفي صېب هېډ ماسټر ؤ[96]. دۀ يوه مرثيه د خپل زوي فضل معبود په مرګ ليکلې وه چې ورته به ئې مخفي ثاني وئيلو[97].

د پېرنګي جبر و استبداد: مخفي صېب په خپل شعر کښې د حاجي صېب ترنګزي خلاف د پېرنګي د يوې کاروايۍ ذکر کړے دے، حکومت په مجاهدينو بمونه ورولي وو، په هغې کښې ډېر خلق مړۀ وو او ښۀ مالي نقصان شوے ؤ، مخفي صېب د دغه تباهۍ يوه دردناکه نقشه پېش کړې ده[98].

حقيقي اسلام: مولوي مخفي صېب د آزادۍ د جنګ د مرکز او چينې ديوبند نه فارغ ؤ. د دغه ادارې سره د وابستګۍ نه علاوه هغۀ د الله تعالیٰ عبادت او اسلامي مطالعه جاري وساتله او قامي روح او مذهبي جذبې ته ئې ځان وقف کړے ؤ[99].

مزاحیه شاعري: مخفي صېب په خپله مزاحیه شاعرۍ کښې هم خپل پیغام مخکښې کړے دے، دے لا د پرائمرۍ طالبعلم ؤ چې یو نظم ئې لیکلے ؤ[100] په دغه نظم کښې د یو داسې غلام قام سره تعلق لرونکي سړي خیال بیانوي څوک چې په امریکه کښې اوسېدۀ غواړي. په دې علامتي نظم کښې د یوې بوډۍ پیشو قیصه ده چې حج ته تلې وه او هغه بیا خپله قیصه منږکانو ته کوي. په دغه وخت کښې یو داسې مزاحیه نظم لیکل حېران کن دي. دا نظم د دې حقیقت یو ناقابل انکار ثبوت دے چې مخفي صېب د خپل وخت یو نابغه (نابغه روزګار) ؤ[101].

ذاتي حېثیت: اګر چې مخفي صېب د یو همه ګیر شخصیت مالک ؤ او پښتنو په هر مېدان کښې د دۀ حېثیت منلے هم ؤ خو بیا هم دۀ هیڅ قسمه دعويٰ نۀ لرله تر دې چې ځان ئې شاعر هم نۀ ګڼو، هغۀ ځان یو ډېر خاکسار او منکسر المزاج کړے ؤ او د راتلونکي نسلونو د پاره ئې د لارې رڼا کولو سوچ کولو[102].

وفات: د مرګ په وخت مخفي صېب د خپل علاج په باره کښې پوښتنه نۀ کوله، بلکې د خپل قبر متعلق ئې تپوس کوو او هاغه ځوانانو ته ئې مبارکي ورکوله چا چې ځان د قومي خدمت د پاره مخکښې کړے ؤ[103].

مخفي صېب نثر هم لیکلے، د راقم الحروف سره په خپله ذاتي کتابتون کښې د مولانا صېب د پښتو، اردو او فارسۍ درې مخطوطې دي. دا یوه هم نۀ ټائټل لري او نۀ د مصنف نوم. په پښتو نسخه کښې مولوي مخفي صېب د اسلامي تعلیماتو په رڼا کښې په قلب، ذهن، روح، جذبه، انا، عاداتو، حواس خمسه، فکر، یادداشت او د انسان په تاریخ بحث کړے دے. د دې نسخې په دوېمه صفحه په روح داسې بحث کوي. د روح علم ډېر وسیع او فنا دے. د قرآن مطابق د روح د حرکاتو او ارادو یا کارونو اصل د الله تعالیٰ سره تړلے دے او انسان ته د هغې ډېر کم علم دے. د کم علمۍ باوجود مونږ په روح بحث کوو. ځکه خو مونږ په دغه مخطوطه کار شروع کړو خو د ذرائعو ذهني یکسویۍ او د ماحول کمے دے خو کۀ الله تعالیٰ دغه ګرانۍ لرې کول وغوښتل او مونږ له ئې ذریعې راکړې نو دغه عنوان به د دې کتاب اولنے باب وي. د اردو مخطوطه په حواس خمسه، ذهن، قلب، روح، عقل، انا، زمکه، سیارې او ستورې، مستور طاقت، جبرئیل، مېکائیل، عزرائیل، عظیم روح، نمر، تاج، قرآن کریم، جنت، ګېس، فطرت، جمال او جلال، الرحمان، الرحیم باندې بحث دے. په څلورمه صفحه د اتم جون 1939 د قومي نقیب حواله ده. ځکه داسې معلومېږي چې دا کتاب د دغه نېټې نه وروستو لیکل شوے دے.

د فارسۍ په مخطوطې لیکلي دي چې "ماخوذ از اکبیر القلوب".

وفات او کفن دفن: په کال **1946** کښې مخفي صېب دېر ته لاړ، د زوې مرګ، سیاست، ادب، تعلیم او مذهبي مېدان کښې سخت محنت او حد درجه غریبۍ او په اخره کښې سیاسي اختلافاتو د هغۀ زړۀ او ذهن کمزورے کړو، صحت ئې خراب شو او په اتۀ ویشتمه (**28**) د مې کال **1947**

ئې اخري سلګۍ ووهله[104] دے د مانوګي دیر په مقبره کښې خاورو ته وسپارلے شو[105][106] د دهٔ کفن دفن خرڅ نواب دیر ادا کړو[107].

د مخفي صیب یو زوئے عبدالاکبرخان په کمبړ دیر کښې د دارو دوکان کوي او دویم زوئے فضل اکبر په بټ خېله ملاکنډ ایجنسۍ کښې د دارو درملو دوکان کوي.

## حوالې او ځینې شرحې:

43. File #8-Head XXVI Dir Affairs & Office of the Political Agent Malakand-Malakand
44. ایضاً
45. ایضاً
46. عبدالغفار ص- 339، 351
47.
48. احمد کاکا، خدائي خدمتګار تحریک، (کابل قبائلي مسئلې افغانستان کال 1369 هـ ش) ص 122
49. د مخفي خپل خط (سخا کوټ، شلمان کتابتون ملاکنډ ایجنسي)
50. پښتو- میاشتنۍ مي جون 1981 ، ص 99.
51. د فاتح الرحمان انټرویو.
52. کابل- میاشتنۍ اسد 15 کال 1356 هـ ش (صدیق الله رښتین) ص 12 .
53. محمد شفیع صابر، شخصیات سرحد (پشاور یونیورسټي بک ایجنسي خیبربازار) ص 262 .
54. فاتح الرحمن انټرویو.
55. پښتو- میاشتنۍ مي جون 1981 ص 101 .
56. آواز- میاشتنۍ نمبر: (افغانستان کال 1357 ) ص 32 .
57. عبدالغفار ص 595، 733.
58. پښتو- میاشتنۍ مۍ جون 1981 ص 100.
59. همېش خلیل، پښتانهٔ لیکوال- دویم چاپ (پېښور پبلک آرټ پرېس کال 1961) ص 28.
60. محمد ولي زلمے ص 263.
61. عبدالاکبر خان اکبر ص 10، 204، 205.
62. آواز، میاشتنۍ نمبر 17 (افغانستان 1357هـ ش) ص 32.
63. Who's Who P # 15
64. عبدالغفار ص 179.
65. عبدالاکبر خان اکبر ص 10
66. ایضاً ص 10.
67. فاتح الرحمان انټرویو.
68. پښتو، میاشتنۍ مۍ جون 1981، ص 100.
69. عبدالغفار ص 176.
70. ایضاً ص 65.
71. عبدالاکبر خان اکبر، خوارهٔ تراخهٔ (پېښور- یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار، 1958).
72. عبدالاکبر خان ص 9، 50.
73. د عبدالغني خان سره انټرویو.
74. زلمے هېواد مل- د پښتو نثر اتهٔ سوه کاله- (لاهور- ملت پرنټرز 1375هـ ش) ص 752.
75. همېش خلیل – اول چاپ ص 25.
76. جي ایف ګئیرز- د مهراني اولس ادبیات (محمد اکبر- معتمد شنوارے) کابل قومونو قبائلي منسټري افغانستان 1364 هـ ش ص 79.
77. کابل میاشتنۍ نمبر 6 اسد 15- 1356 هـ ش) ص 32.
78. آواز- میاشتنۍ نمبر 17 (نصرالله حافظ) کال 1357 هـ ش ص 9.
79. عبدالخالق خلیق- د آزادۍ جنګ (پېښور ادارهٔ اشاعت سرحد- 1978) ص 42.

80. پښتو - میاشتنۍ مۍ جون 1981، ص 94.
81. کابل - میاشتنۍ د پښتون ادیب مېګ نمبر 6 - اسد 15 – 1326 هـ ش، ص 8، 10.
82. پښتو - میاشتنۍ مۍ جون 1981، ص 99.
83. د فاتح الرحمان سره انټرویو.
84. عبدالاکبر خان اکبر ص 36،10.
85. احمد کاکا ص 185.
86. عبدالولي خان ص 73.
87. محمد افضل خان، د پښتون قومي وحدت، ډاکټر شېرزمان طائزے The Pushtun National Unit 36
88. عبدالغفار - انتساب
89. عبدالاکبر خان اکبر ص 36، 50.
90. احمد کاکا ص 185.
91. لار - میاشتنۍ پېښور مارچ 1957.
92. عبدالاکبر خان اکبر ص 36، 50.
93. مخطوطې د مخفي صېب (شلمان کتابتون سخاکوټ ملاکنډ ایجنسي).
94. اباسین - میاشتنۍ پېښور - نومبر 1956.
95. پښتانهٔ لیکوال د همېش خلیل ص 28.
96. د فاتح الرحمان انټرویو.
97. پښتو - میاشتنۍ پېښور - نومبر 1956.
98. عبدالغفار ص 651-652.
99. پښتو - میاشتنۍ مۍ جون 1981 ص 101.
100. برهان الدین - روداد لویه جرګه - د دفاعي چارو وزارت افغانستان 1303 هـ ش، ص 273، 274.
101. مخفي صېب ذاتي خط - شلمان کتابتون.
102. پښتو - میاشتنۍ مۍ جون 1981، ص 100.
103. د فاتح الرحمان انټرویو.
104. اباسین - میاشتنۍ نومبر 1956 پېښور - ص 24.
105. پښتو - میاشتنۍ مۍ جون 1981، ص 28.
106. ایضاً ص 94، 95.
107. ایضاً ص 101.
108. ایضاً ص 102،101.
109. د همېش خلیل د وینا مطابق د دهٔ تاریخ وفات 27 کال 1943، محمد ولي زلمے وائي چې د دهٔ تاریخ وفات کال 1942 ؤ خو ماسټر کریم، صدیق الله رښتین، اشرف غمګین او سیف الرحمان سلیم د دهٔ د مړینې نېټه 28 مۍ کال 1947 ښیي.
110. د مخفي صېب د مزار تصویر، شلمان کتابتون.
111. اشرف غمګین او صدیق الله رښتین وئیلي چې د مخفي صېب روضه په چارسده کښې ده. عبدالاکبر خان وائي چې دے په باجوړ کښې په حق رسېدلے ؤ (ص 10). د همېش خلیل، ماسټر کریم، سیف الرحمان سلیم د وینا مطابق د دهٔ زیارت په مانړګي ضلع دیر کښې دے.
112. د فاتح الرحمان انټرویو.